سپېځلي ولولې

پینځمه شعري ټولګه

وزیر محمد "روغ لیونی"

PROPERTY OF ARIC Established 1988

سپېځلي ولولې

پينځمه شعري ټولګه

PROPERTY OF ACKU 9399

وزیر محمد "روغ لیونی"



کتاب پېژندنه

نوم	:	سپېځلي ولولې
شاعر	:	وزیر محمد "روغ لېونی"
خپروونکی	:	دانش خپرندویه ټولنه
کمپوزر	:	ذ.شفق
د خپرېدو نېټه	:	سرطان/۱۳۷۹_جون/۲۰۰۰
شمېر	:	۵۰۰ ټوکه
قیمت	:	۳۰ روپۍ

چاپ او کمپیوټر ځای:

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

تلیفون: 2564512

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

د روغ لېوني " سپېڅلي ولولې"

بناغلی روغ لېونی د ګران هېواد افغانستان دردونو، کړاوونو او ناخوالو د شعر پر بهیر راکډ کړی، د ده شاعري زموږ د اسکېرلي، دردېدلي، ربړېدلي او زمولل شوي ولس د زړه غږ دی او د فکر او احساس ترجمانه.

دی د یوه خپلواك، ودان او هوسا افغانستان په هیله د خپل زړه غږونه په موزونو ویېونو (الفاظو) کې پېیي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

روغ لېوني د هېواد د تاوجنو حالاتو ډېرې سړې تودې لیدلي، دی په همداسې حالاتو کې زېږېدلی، رالوی شوی او شاعر شوی دی، ځکه نو د ده د شاعرۍ په ټولو اصنافو او څېلونو کې د هېوادنۍ مینې لیدل څه د حېرانتیا خبره نه ده. دی که د عشق او مینې او یار او اغیار خبرې کوي او که د ګل او بلبل ، خو په دې ټولو کې یې د هېوادنۍ مینې یو سوزنده رنګ او خوند پروت دی او د خپل زړه پېغام په ډېره ساده او اسانه د لوستونکیو ذهن ته ور انتقالوي.

روغ لېونی په ټولنیز ژوندانه کې هم خورا پاك او سپېڅلی دی، صمیمیت د ده په خټه کې اخښل شوی، ناسته ولاړه یې له چل او ټګۍ نه پاکه ده او پر خبره ولاړ سړی دی. دی لومړی د یوه چا ملګرتیا ته زړه نه ښه کوي، خو چې یو ځل ورسره څوك ملګری شي، بیا یې تر مرګه نه پرېږدي. د دوستانو او اشنایانو په منځ کې یې خوله تل له خندا ډکه وي او په ځانګړي ادبي طراوت او ظرافت مجلس ته نوی خوند او رنګ ښښي.

له دې ټولو سره سره دی په ټولنیزو چارو کې غوځ دریځ لري او د حقیقت په ویلو کې نه د زندان پروا ساتي او نه د زر او زور او وېرې

او ډار. همدا لامل دی، چې د ده د ټولنيز ژوندانه دا توکي نيغ په نيغه د ده شعر ته هم رانوتي او هغه څه، چې موږ يې د ده د خبرې په ليدو او د مجلس په اورېدو کې وينو، د ده په شعر کې هم انځور شوي دي.

روغ ليوني خو له پخوا څخه شاعري کوله، خو دا اووه- اته کاله، چې زموږ پر ګران هېواد د وېرې او ډار او وحشت نوې څپه وغوړېده، نو د ده شاعرۍ ته يې هم نوې خوږلني ور په برخه کړه. اوس موږ د ده په ډېرو شعرونو کې د خپل هېواد د ظلم او وحشت د بېلا بېلو خواو انځورونه لېدای شو.

روغ لېونی نظامي افسر دی، د هېواد د خپلواکۍ په لار کې يې ډېرې مبارزې کړي او هر څه يې په خپلو سترګو ليدلي او په شعر کې يې رانغښتي دي.

څرنګه چې ده د خپلې دندې په بهير کې د خپل هېواد بېلا بېل ځايونه ليدلي، نو هېوادنۍ مينه يې يو په دوه شوې او د وطن له شنو ورشوګانو، ځړوبيو، شنو غرونو او طبيعي چاپېريال سره يې مينه په شعر کې ډېره راځرګنديږي، چې دا هم د ده د ژوندانه ځانګړتيا ګڼل کيږي.

ده د خپل ذهن او زړه غږونه له ځان سره نه دي ساتلي، خورو، ورو پښتنو ته يې د وررسونې بريالۍ هڅې هم کړي، د خپلو شعرونو څلور ټولګې يې مخکې چاپ کړي او دا حاضره ټولګه (سپېڅلې ولولې) يې پېنځمه ده، چې د ده د ذهن او فکر استازي کوي.

هيله ده، چې ګران لوستونکي د ده دغه شعري ټولګه په خوند ولولي او پند ترې واخلي.

په درناوي

محمد داود وفا

۳/۵/۱۳۷۹

پېښور

پسرلي ته

په ښکلي ګل غونډۍ مې ارغوان لېدلی دی
سور ګل د پسرلي مې په پغمان لېدلی دی
خوږې وږمې راوالوتې هوا شوه عطرجنه
په سرو ګلو د ځمکې بیا رنګیه شوه لمنه
د شنو ونو په بڼ کې مې باغوان لېدلی دی
سور ګل د پسرلي مې په پغمان لېدلی دی
راویښ شئ وطنوالو چې دا وخت دې کار او زیار دی
زموږ د ګران وطن ملي ارمان په انتظار دی
د للمې په ډاګونو مې باران لېدلی دی
سور ګل د پسرلي مې په پغمان لېدلی دی
موسم د پسرلي راوړل د مینې دېدنونه
په ښکلو، ښکلو پېغلو ښایسته شول ګودرونه
په بام مې مازیګر کې خپل جانان لېدلی دی
سور ګل د پسرلي مې په پغمان لېدلی دی
په ښکلي ننګرهار کې د نارنج د ګل میلې دي
شپېلۍ کې د شپونکي د نوي ژوند نوې نغمې دي
شاعر روغ لېوني مې نن خندان لېدلی دی
سور ګل د پسرلي مې په پغمان لېدلی دی

د بګرام هوايي ډګر وری ۱۳۵۳

د ویلتوس ښار ته

نه پوهېږم چې دا خوب دی که چرتونه
وينم ښکلې منظرې شينکي باغونه
ښار د شنو ونو ځنګل کې کرار پروت دی
په کې ښکاي شل پوړيزه بلډنګونه
د ټول ښار کوڅو کې رنګ په رنګ ميلې دي
د خوښيو په کې زوګ او سرودونه
ته به وايې دلته شپې ورځې اختر دی
په کې کيږي ديدنونه ښه سيلونه
ما ونه ليدې زړې جامې په چا کې
هره ورځ وينم په نوي رنګ مودونه
هره پېغله يې ګلپاڼې نښه نازکه
ترې شرميږي د باغچو غوټۍ ګلونه
د جګړې د مرګ او ژوبلې کيسې نه شته

په جنګونه باندې وايې لعنتونه
لوړه تنده په کې نه ښکاري يارانو
پرېماني ده ډېر ارزان په کې نرخونه
د باغچو ګلان غوټۍ ټول په نښا دي
تښتېدلي له دې ښاره دي غمونه
اى شاعر "روغ ليونيه" اوس خو پوه شوې
علم پوهه جوړوي د ژوند خوندونه

د ويلتوس ښارد تلې مياشت ۱۳۶۸ کال

پسرلیه راشه

باغچو کې نه شته د سپري ګلونه
په اور مې سوي وطني ګلونه
د زړګي باغ مې دړې وړې ښکاري
باغچې د ګلو مې لغړې ښکاري
تورو لوګيو په ګردو کې پټې
بلې وهلې خړې پړې ښکاري
تالاوالا شول د ريدي ګلونه
په اور مې سوي وطني ګلونه
نه دې د پسرلي ښکلي جشنونه وينم
نه يې توتيان نه يې ګلونه وينم
نه يې د نوي ژوند نغمې غربيږي
نه يې د ښغلو سينګارونه وينم
واړه تباه شول غرني ګلونه
په اور مې سوي وطني ګلونه

ښکلیه سپرلیه سر درو ته راشه
د زړه ډاګونو پرهرو ته راشه
ولې خپه یې ګیله من له مانه
یو ځل مې دښتو جګو غرو ته راشه
لارې د ثاري د للمې ګلونه
په اور مې سوي وطني ګلونه
" روغ لېوني" هیلې ژوندې کړه واړه
سپرلیه ورکې دښمنې کړه واړه
شنه زرغونه لمن پرې وغوړوه
دلته تپلې جنګ زندې کړه واړه
ارمغان راوړه د ښادي ګلونه
په اور مې سوي وطني ګلونه

کابل خبرخانه
وری ۱۳۷۲

یادونه

شـي پـه خنـدا مـې پرهرونـه ګرانـې
چـې را پـه یـاد دې شـي نازونـه ګرانـې
غمونـه لاړ شـي رانـه بلـې خـوا تـه
چـې خیـال کـې راشـي د یادونـه ګرانـې
چې ستا د سرو شونډو غوټۍ یادې کړم
راځنـې هـېر شـي جنتونـه ګرانـې
کلـه دې مینـې چـې فکـرو کـې ډوب شـم
خولـه کـې مـې جوړ شي ډېر شعرونه ګرانـې
کـه مینـه نـه وه پـه ژوندونـدون کـې واوره
ډېر بـې ارزښت بـه وه وختونـه ګرانـې
چـې کلـه، کلـه تصـور کـې راشـې
ټول مـې تـازه شـي ارمانونـه ګرانـې
روغ لیونـی دې خـالي نـوم چـې واخلـي
د شـپې تـرې وتښتـي خوبونـه ګرانـې

کابل خیرخانه
غوایي ۱۳۷۲

خیالي غوټې

ډېره په خیـــال کــړه وړه تــېره شـــوه
د ګلـو څانـګه مــې پـه خــوا تـېره شـوه
د نـازکتو کـې یـې سـور اور بښکـاریږده
د مسـتې منې په کې شـور بښکـاریږده
لکـــه د تـــالنده بربښنــا تـــېره شـــوه
د ګلـو څانـګه مــې پـه خــوا تـېره شـوه
چې مشـکو بـوی یـې لـه کمـڅو راغللو
صــورت مــې ټول پــه بوړنــېدو راغللــو
د پســرلي ګلــو غوټچــه تــېره شـــوه
د ګلـو څانـګه مــې پـه خــوا تـېره شـوه
لکــه چې نـاوې سـینګارونه جـوړ کــړي
پــه بښکـلا مینـه کې ډولونـه جـوړ کــړي

د ژوند دنیا وه په خندا تېره شوه
د ګلو ځانګه مې په خوا تېره شوه
مخې ته راغله سره لمبه يې کړمه
وسوم لوګی شومه اوبه يې کړمه
د خوږې مينې ولوله تېره شوه
د ګلو ځانګه مې په خوا تېره شوه
روغ لېونیه ګل غوټۍ غوندې وه
درته قسم خورم ښاپېرۍ غوندې وه
وربسې ورځ په ژړا تېره شوه
د ګلو ځانګه مې په خوا تېره شوه

د کندز ښار
زمری ۱۳۷۲

بربادول

د وطن بربادول نه دي نو څه دي
د افغان کور رنګول نه دي نو څه دي
سرکونه لاړې واړه شوې مورچلې
دا پخپلو کې وژل نه دي نو څه دي
چې کورونه په بمونو وېشتل کیږي
دا په وینو رنګول نه دي نو څه دي
پرګنې د وطن وږي تږي ګرځي
دا دې خلکو زورول نه دي نو څه دي
چې په زور باندې مشري د وطن غواړي
په شرمونو شرمېدل نه دي نو څه دي
د وطن پېغلې مو لاړې مروري
دا مو ځان ته سپک کتل نه دي نو څه دي
ای شاعر " روغ لېونیه" غوږ دې خلاص کړه
دا رښتیا زما غزل نه دی نو څه دي

پېښنور مرغومی ۱۳۷۳

شين خال

مورکۍ راته وهلي دي په مينه ډېر په خوند
ډولي خال مې ځليږي پاس د وروځو په پيوند
په سپينه نرۍ غاړه مې وربښمين شال راتاويږي
د سرو زرو بندوکې مې ترلي په مړوند
په تور ګلدار کميس کې مې سپرغې د مينې سوځي
نرۍ د ګلو لښته يم ماتيږم بند په بند
ځومره مې کتل د تورو سترګو اشري دې نن
دا غوندۍ منډه زنه مې منه د سر قند
کتار، کتار ګلونه مې په زلفو کې ټومبلي
ياري دې که زړه غواړي د وفا وکړه سوګند
اى " روغ لېونيه" له دنيا به دې زړه تور کړم
که تا ته مې دا سپين مخ له پلو نه کړو څرګند

د پښتنو او کويټي لويه لار کې
حوت ۱۳۷۳

پسرلي ته

د پسرلي نوي نغمي په نڅېدو راغللي
هيلي د ژوند په غوړېدو په ويښېدو راغللي
غوټۍ د ګلو په خندا شوي ونې شنې ښکارېږي
د غرو لمنې ښايسته شوې زرغونې ښکارېږي
تازه ورمې د پسرلي په خوړېدو راغللې
هيلي د ژوند په غوړېدو په ويښېدو راغللي
راغللې بيا د ګودرونو ديدنونو ورځې
په شنو باغو کې د ګلونو د سېلونو ورځې
د مينې مستې مرحلې په ولولو راغللې
هيلي د ژوند په غوړېدو په ويښېدو راغللي
سپېرې سيلۍ د ژمي تېرې شوې رنګين شو وطن
د سرو ګلونو موسم راغلو ښکلی شين شو وطن
ويده شپېلۍ د نوي ساز په غړېدو راغللې
هيلي د ژوند په غوړېدو په ويښېدو راغللي
روغ ليونيه وخوځېږه کروندې جوړې کړه
د خپل ولس وطن لپاره کارنامې جوړې کړه
چې دې غوښتې هغه شپې ستا د شعرو راغللې
هيلي د ژوند په غوړېدو په ويښېدو راغللي

پېښور وری ۱۳۷۴

د جنګ غوښتونکي ته

دغه وران ویجاړ وطن به جوړوي څوک
مرې ډېوې به د ښوونې بلوي څوک
نن چې لرې وطنونو کې اوسیږي
هغه تللي مرور به راولي څوک
په پردي لمسون چې خپل وطنوال وژني
نو به تا سره دوستي ورورۍ کوي څوک
چې تندرونه غورځوې رحم پرې نه کړې
کونډې، بورې کله داسې ځوروي څوک
ته چې خپل مظلومان ولې په سرو کاڼو
د ملهمو به پټۍ پرې لګوي څوک
لمر په ګوتو نه پټیږي دا متل دی
پټ به نه شي له تاریخ چې غولوي څوک
ټول وطن دې له شخصي ګټو قربان کړو
تا به دغه خیانت نه خلاصوي څوک
ای ظالمه ستا به کله زړه یخیږي
انسانان خو دومره نه حلالوي څوک
دا زما روغ لیوني ورته ښېرې دي
مخ یې تور شه چې غوټۍ ګلان ریبي څوک

د تاشکند ښار- تله ۱۳۷۴

قسمونه

د چــا بدرنــگه بــې مــزه مینـــه وي
د چـــا پـــه برخـــه کـــې خـــوږه مینـــه وي
مینه کې رنــګ پـه رنــګ کیســې وي ډېرې
ځینــې خـــوږې ځینـــې ترخـــې وي ډېرې
د چــا پیســو بـــاندې رســوا مینــه وي
د چـــا پـــه برخـــه کـــې خـــوږه مینـــه وي
چـــا تـــه غمونـــه کړاوونـــه جـــوړ کـــړي
چـــا تـــه ګلونـــه جنتونـــه جـــوړ کـــړي
یـــوه دروغجنـــه یـــوه رښتیـــا مینـــه وي
د چـــا پـــه برخـــه کـــې خـــوږه مینـــه وي
څوك په ښکـلا بـه څوك بـه وفـا خـوښوي
څوك بــه د خپـل جانـان رضـا خــوښوي
" روغ لیونیـــه" ښه صفـــا مینـــه وي
د چـــا پـــه برخـــه کـــې خـــوږه مینـــه وي

د تاشکند ښار
لړم ۱۳۷۴

ناپوهي

تعلیم ورك شولو ولس كې ناپوهي شوه
خدای دې خیر كړي په وطن كې بربادي شوه
د هېواد شتمني لاړه په جنګو كې
ټوله خاوره مې په وینو الواني شوه
یو زمونږ په كور كې كشر مشر نه شته
كه له مخې زمانه داسې یاغي شوه
كرونده مې شوې بدلې په ډاګونو
للمې پرېږده ابې ځمكه مې اغزي شوه
وطنوالو كډې وكړې بل وطن ته
پلارنۍ جونګړه رنګه شوه خالي شوه
ما پردو پورې خنبدل چې لیونیان دي
اوس خپل كور كې راته پېښه ګډوډي شوه
ترې نه پاتې كلی كور شو په ارمان كې
په پردېس روغ لېونی ځكه خواري شوه

شمالي وزیرستان لړم ۱۳۷۴

اورونه بلوي

ښکلی کمیس مې نن په غاړه د کابل دی یاره
چې سره اورونه بلوي هغه مې بل دی یاره
لکه غوټۍ درته په شونډو کې خندا کومه
په ترورمۍ کې د سپوږمۍ غوندې رڼا کومه
د مینې ګل مې پاس ټومبلی په وربل دی یاره
چې سره اورونه بلوي هغه مې بل دی یاره
د خیال سالو کې په نازونو ګرانه در بنه شمه
یو خو مې بل دی که په سر یې کړم نظر په شمه
د زړه پردې چې پرې کوي زما چارګل دی یاره
چې سره اورونه بلوي هغه مې بل دی یاره
روغ لېونیه سپینې خولې دې پوره وړې یمه
لړه مې پرېږده چې دمه شم ډېره ستړې یمه
خوله به در جار کړم جوړ دې ماته کوم غزل دی یاره
چې سره اورونه بلوي هغه مې بل دی یاره

تاشکند کب ۱۳۷۴

وړه وړه خالونه

وړه وړه مې شنه خالونه په رخسار ایښي دي
په تور وربل کې مې ګلان کتار کتار ایښي دي
که د ګلونو سیل دې خوښ وي نو ګلبڼ ته راشه
د مینې جنګ که جوړوې زما دیدن ته راشه
د شونډو سرې پیالې مې تاته انتظار ایښي دي
په تور وربل کې مې ګلان کتار کتار ایښي دي
که خالي سترګې جنګوې زموږ کوڅې ته راشه
که بیا خولګۍ غواړې زموږ ښکلې حجرې ته راشه
د مینې رنګ په رنګ خالونه مې په شمار ایښي دي
په تور وربل کې مې ګلان کتار کتار ایښي دي
په ډول جوړه یم جانانه ډېره ښکلې یمه
د پسرلي ګلو موسم کې غوړېدلې یمه
دا سپینې لېچې مې دا ستا د غاړې هار ایښي دي
په تور وربل کې مې ګلان کتار، کتار ایښي دي
که بیا زما د سپینې خولې خوږې خبرې غواړې
دا ستا په خوښه به یې وایم که سندرې غواړې
روغ لیونې د خولې شعرونه مې انبار ایښي دي
په تور وربل کې مې ګلان کتار کتار ایښي دي

دوبۍ غبرګولی ۱۳۷۵

مسافر

پـردي وطـن كـې مسـافر يـم فريادونـه ليكـم
ګرېوان مـې لونـد دی پـه ژړا بـاندې غمونـه ليکـم
رانـه وطـن كـې ښايسـته كلـي كـوڅې پـاتې دي
د پـلار نيكـو مـې هديـرې ګرمـې حجـرې پـاتې دي
چې په وطن كې مې څوك ستم كړي دا ظلمونه ليکم
ګرېوان مـې لونـد دی پـه ژړا بـاندې غمونـه ليکـم
د خپـل وطـن دښتـې بـه ورنـه كـړم بـاغونو بـاندې
هـم مـې ختيـن كلـي د بـل پـه بلـډينګونو بـاندې
خلـك بـه هـرڅه هـرڅه وايـي زه دردونـه ليکـم
ګرېوان مـې لونـد دی پـه ژړا بـاندې غمونـه ليکـم
زمـا نـه پـاتې دي د پېغلـو ګودرونـه هلتـه
د نـازولو صورتونـو مـې قبرونـه هلتـه
نـن دې وطـن ولـس د زړونـو ارمانونـه ليک
ګرېوان مـې لـون دی پـه ژړا بـاندې غمونـه ليکـم
ډېر مـې وطـن كـې د زړه سـوي اميدونـه ژاړي
د ننـګ خـبرې د پلارونـو مـې دودونـه ژاړي
روغ ليونيـه د شـيرين وطـن يادونـه ليکـم
ګرېوان مـې لونـد دی پـه ژړا بـاندې غمونـه ليکـم

شمالي وزيرستان تله ۱۳۷۵

کډې وډې

د مینې خوند چې په کې نه وي دا ژوندون مه بوله
چې له لیلا نه قربان نه شي دا مجنون مه بوله
چې یو له بل ځنې لوګي نه شي د مینې اور کې
په حقیقت کې دا دې دوو زړونو تړون مه بوله
چې تږي ګل ته دې د خوږې مینې اوبه ورنه کړي
د مینتوب په دستورو کې دا بدلتون مه بوله
په فلسفي پوهې بنسټ چې شکل ونه لري
هسې لیکل کتاب کاغذ کې خو مضمون مه بوله
چې سره ګلونه خوشبويي شین والی رانه ولي
دا د سپرلي پټو رازونو اوښتون مه بوله
نېغو شملو ته خو په سپك نظر کتل ښه نه دي
چې په پښتو ټینګ ولاړ نه دي دا پښتون مه بوله
روغ لیونیه بې له یاره ژوند کېدلی نه شي
چې دیدنونه په کې کېږي دا بېلتون مه بوله

د عشق اباد ښار
لړم ۱۳۷۵

ولور

په درې لکه کلدارو شو ولور خدایه زوریږم
یقین مې داسې وشو چې بې ښځې به زړیږم
ډېر تریخ عمر مې تیر شو په کالونو غریبۍ کې
د تن غوښې مې وچې شوې د بل په مزدورۍ کې
روپۍ مې پیدا نه کړې د واده غم کې کړیږم
یقین مې داسې وشو چې بې ښځې به زړیږم
دوران مې د ځوانۍ دی خو عبث په ما تېرېږي
تنکۍ هیلې د ژوند مې په ظلمونو کې سوځیږي
بې کوره بې جایداده د سپېرو خاورو کې لغړیږ
یقین مې داسې وشو چې بې ښځې به زړیږم
زما قسمت ته ګورئ قدر منو عزیزانو

په دومره ډېرو نجونو کې مې بخت نه شته يارانو
د پلار نيکه وطن کې مسافر غوندې ګرځېږم
يقين مې داسې وشو چې بې ښځې زړېږم
ای ګرانو وطنوالو ياغي شوې زمانه ده
د ښځو خرڅول خو په اسلام کې ډېر ګناه ده
زه دا شان بدمرغيو ته په هره ورځ ژړېږم
يقين مې داسې وشو چې بې ښځې به زړېږم
نادان روغ ليونيه بيا به وروسته يې پښېمانه
په کور کې پېغله ماساته خفه نه شې له مانه
د پېغلې جلۍ پلاره له کتاب درته غړېږم
يقين مې داسې وشو چې زړېږم

د عشق اباد ښار
لينډۍ ۱۳۷۵

نوي پسرلي ته

زما د ګلو باغ په سرو لمبو کې سوځېدلی
د نوي پسرلي لپاره نه شم څه ليکلی
زما د ژوند په باغ کې نه توتيان شته نه ګلونه
چوپتيا ده دلته نه شته د بلبلو اوازونه
تازه رنګين موسم کې زېړ خزان پرې لګېدلی
د نوي پسرلي لپاره نه شم څه ليکلی
په نوي پسرلي کې د ژوندون نوې نغمې وي
خورې ورې ورېږې وي، ننداريې وي، ترانې وي
زما کنډواله کلی په غمو کې پرېوتلی
د نوي پسرلي لپاره نه شم څه ليکلی
موسم د پسرلي کې بارانونه راورېږي
په دښتو غرونو غاړو کې ګلان واړه غوړېږي
زما سوی وطن خو ظالمانو ځورولی
د نوي پسرلي لپاره نه شم څه ليکلی
له مانه هېرې شوې د سپرلي ښکلې سندرې
قلم مې نه ليکي نن د شعرونو مرغلرې
فکرو کې ځکه ناست روغ لېونی دی غلی پلی
د نوي پسرلي لپاره نه شم څه ليکلی

د عشق اباد ښار
سلواغه ۱۳۷۵

ړوند او کوڼ

دښمنانو چل جوړ کړی رنګ په رنګ دی
ښکلی کور دې افغانانو ځکه ړنګ دی
ظلم زور یې لګولې په هر لوري
خپل ازاد وطن یې موږ باندې راتنګ دی
د نیستۍ او بربادۍ په لور مو بیایي
راته جوړ یې د هر ژور مخ ته کړنګ دی
څه لمسون څه لاس وهنه ګران وطن کې
دا زموږ د ورکېدو د خطر زنګ دی
غلیم هسې لور په لور نفاق شیندلې
ورور د ورور او زوی له پلار سره په جنګ دی
ځکه سر تندی وهم روغ لېونیه
چې ولس مې کوڼ او ړوند په ژبه ګونګ دی

عشق اباد مرغومی ۱۳۷۵

مینتوب که لیونتوب

PROPERTY OF ACKU ۹۳۹۹

زما د مینــې ګل چــې نــه وي دا جـــهان څه کـــوم
رنګیــن پــه ګلــو د پردیــو ګلســتان څه کـــوم
چې د اشـنا د ګلو بـاغ تـه مـې ښکـلا ورنـه کـړي
چې يې د سرو شـونډو غوټيو تـه خندا ورنـه کـړي
داســې د نـــوي پســرلي تـــازه دوران څه کـــوم
رنګیــن پــه ګلــو د پردیــو ګلســتان څه کـــوم
هغـه ژونـد نـه دی چـې د زړونو مینتـوب نـه وي کـې
یـاري يې مـه بولـه چـې مینـه لیونتـوب نـه وي کـې
هســې فــاني واړه دنيــا بــې لــه جانــان څه کـــوم
رنګیــن پــه ګلــو د پردیــو ګلســتان څه کـــوم
کـه ولولـې دې ويـښې نـه کـړې فريـادونو بـاندې
که مـړاوې هيلې دې ژوندئ نه کـړې شعرونو بـاندې
روغ ليونيــه ســتا پــه شــان بيــا شــاعران څه کـــوم
رنګیــن پــه ګلــو د پردیــو ګلســتان څه کـــوم

عشق اباد کب ۱۳۷۵

پسرلي ته

ای پسرلیه په وطن کې مې بدلون راوله
د نوي ژوند نوي فکرونو سباوون راوله
په لمبو سوې غرو لمنې زرغونې کړه راته
باغچې د ګلو کروندې مې تکې شنې کړه راته
د ابادۍ د حرکت یو ستر پاڅون راوله
د نوي ژوند نوي فکرونو سباوون راوله
ساه په کې پو کړه چې ژوندی شي دغه مړ وطن مې
په سرو ګلونو ښایسته کړه دا خړ پړ وطن مې
د میلیتونو ورورګلوي کې کلک تړون راوله
د نوي ژوند نوي فکرونو سباوون راوله
د وړو تړو د بربنډو پرګنو لپاره
د شهیدانو یتیمانو ارمانو لپاره
د امن سولې مې هېواد کې ښه لمسون راوله
د نوي ژوند نوي فکرونو سباوون راوله
دا ستا په شکل او مضمون کې حکمتونه شته دي
د اوښتون د قدرتونو توپانونه شته دي
روغ لیوني ته د خوبنیو ډك ژوندون راوله
د نوي ژوند نوي فکرونو سباوون راوله

د عشق اباد ښار
۱/۱/۱۳۷۶

د خلکو دردونه

د خپل وطن خلکو دردو وخورم
د ورو ترو ارمانو وخورم
یتمیان کونډې مې وطن کې ژاړي
د سوي زړونو فریادو وخورم
ولس مې کوڼ په سترګو نه ویني څه
د ناپوهۍ بلو لمبو وخورم
د ګلو باغ مې ټول اغزي شو
د غلیمانو توطیو وخورم
پرګنې واره یاغي شوې خدایه
په ګډ وډیو کې غمو وخورم
د زړه ګلبڼ کې مې لمبې بلیږي
د ظالمانو ستمو وخورم
هر یو افغان د سترګو تور ګڼمه
خو د شخصي ګټو جنګو وخورم
روغ لیونیه درته ژاړم څکه
وطن مې خپل په کې پردو وخورم

پېښور چنګاښ ۱۳۷۶

دودونه که دردونه

د مینـــې راز رســـوا کـــولای نـــه شــم
زړه مـــې لـــه تانـــه صـــبرولی نـــه شـــم

پټ دې په زړه کې لـه دنیـا نـه سـاتم
جانانـــه تـــا چاتـــه ښودلـــی نـــه شـــم

خلـک مـې وژنـي سـتا پـه مینـه پـورې
د مینـــې حـــال ځکـــه ویلـــی نـــه شـــم

دا چـاپېریـال د مینـې ژونـد نـه منـي
دا ســتا پوښتنــې تــه درتللــی نــه شـم

داســې دودونــو کــې راګیــر یـم اشــنا
دغـــه دودونـــه مـــاتولی نـــه شـــم

"روغ لیونـی" شـوم سـتا د مینـې خیـال کـې
یـــوه شـــېبه دې هېرولـــی نـــه شـــم

شمالي وزیرستان چنګاښ ۱۳۷۶

د کسپین بحیرې غاړه

نوې پېغله چې بې دریغه ښایسته وه
د کسپین بحیرې غاړه کې پرته وه
د لامبو مخصوص لباس یې و په تن کې
لوڅه پوڅه ښکارېدله ننداره وه
لکه سپینې واورې غر پروت وې اوبو کې
په نازونو لمبېده سپینه بربښنا وه
کله، کله به په شګو لغړېدله
غوړېدلې د ګلونو سره غونچه وه
لټ په لټ به اوړېدله په اوبو کې
د یار غېږه کې په ناز خوره وره وه
غلې غلې مې کتله سترګو لاندې
د وصال په خوږه مینه کې اخته وه
ستا به څه سرخوږوم "روغ لیونیه"
د ښایست دنیا کې ښکلې نمونه وه

د باکو ښار زمری ۱۳۷۶

وطن

په وطن کې تورې شپې خورې ورې دي
بل څه نه شته د جنګونو بس کیسې دي
د مرګ ژوبلې د ماتم شپېلۍ غږېږي
خړې پړې د هر کور کلي کوڅې دي
د وطن میلې مو څه شوې چېرته لاړې
د پغمان او ګل غونډۍ درې سپېرې دي
وطنوال خو لولپه تباه، تباه شول
دغه څوك دي چې ترې ډکې هدیرې دي
ښایسته کابل زموږ ملي سمبول و
اوس یې شنه باغونه ټول خاورې ایرې دي
د ژوندون خوندونه نه شته په ولس کې
نه پوهېږم موږ ته چا کړي ښیرې دي
د شخصي ګټو جګړه دلته تووده ده
په کې نغښتې د پردیو دسیسې دي
دا تپوس به څوك له چا کوي حیران یم
د وطن خوینديې نن چېرته مېلمنې دي
پوه دې نه کړم په مطلب روغ لیونیه
ستا غزل کې هم پوښتنې هم ګیلې دي

د کراچۍ او باکو هوایي لار کې
زمری ۱۳۷۶

د دوبۍ سفر

زما شیرینه یاره چې دوبۍ ته رانه تللې
له سترګو نه مې اوښکې په ګرېوان رابهېدلې
زما د سترګو توره چې روان شولې دوبۍ ته
له ډېرې محتاجۍ نه ګرانه لاړلې ګرمۍ ته
سلګۍ مې ښکته پورته په مرۍ کې ګرځېدلې
له سترګو نه مې اوښکې په ګرېوان رابهېدلې
قیامت و د زړه سره دېر خفه مې تور پېکی و
مین زړګی مې تا پسې له غمه لېونی و
چارګل باندې مې تورې اندېښنې راوربدلې
له سترګو نه مې اوښکې په ګرېوان رابهېدلې
نتکۍ مې له خفګانه په چرتو کې ځانګېدله
هوګۍ مې سپینه غاړه کې په زوره ژړېدله
د مینې ولولې مې ارمانو کې زوربدلې
له سترګو نه مې اوښکې په ګرېوان رابهېدلې
زما روغ لیونیه چې ته لاړلې تباه شوم
دا ستا لیونۍ مینه کې نیمګړې نیمه خوا شوم
د ژوند هیلې مې واړه په لمبو کې سوځېدلې
له سترګو نه مې اوښکې په ګرېوان رابهېدلې

د باکو ښار
تله ۱۳۷۶

خپل ښایست راپورې اور دی

خپل ښایست راپورې اور دی څه وکړمه
راته تنګ دا کلي کور دی څه وکړمه

په ناحقه تهمتونو کې سوځېږم
له دنیا نه مې زړه تور دی څه وکړمه

چې هر چېرې ځم غمونه راته جوړ شي
هر قدم ماته پېغور دی څه وکړمه

ژوند مې ګران شو اوس به څه چاره کومه
هر محل راته تنور دی څه وکړمه

دلته ځومره ناپوهي ده پاکه ربه
چاپېریال واړه تک تور دی څه وکړمه

ته یې وینې زما حال روغ لیونیه
څه خطا کوم مې قصور دی څه وکړمه

د باکو ښار
غبرګولی ۱۳۷۷

خلاصي تنۍ

یو ځل دې که ماته په خوړه مینه کتلي وای
ګراني بیا دې مړ وه چې په غېږ کې مې نیولی وای
یو ځل که پوره مې ستا د مینې ارمانونه وای
بیا مې پروا نه وه که نصیب مې دوزخونه وای
کاشکې چې څوك نه وه ما تنها چېرې موندلې وای
ګراني دې بیا دې مړوه چې په غېږ کې نیولې وای
ګراني که په سپینه خوله دې ښه پرېمانه مور کړی وای
ستا په غوټۍ شونډو مې دا تږی زړه سوړ کړی وای
بیا دې تورو غرو تیرېي په ما راچلولي وای
ګراني بیا دې مړوه چې په غېږ کې مې نیولې وای
یو وارې دې موړ وه ستا د ښکلي مخ دیدن باندې
چار چاپېر ترې تاو وه ستا د سرو ګلو چمن باندې
رنګ په رنګ ګلونه مې دې زلفو کې ټومبلي وای
ګراني بیا دې مړ وه چې په غېږ کې مې نیولې وای
لاس مې ستا په غاړه کې چې ناست و څنګ په څنګ باندې
ته خلاصي تنۍ راته پرته وې په پالنګ باندې
"روغ لېونی" وایي چې دا حال مې لیدلی وای
ګراني بیا دې مړ وه چې په غېږ کې مې نیولې وای

د باکو ښار
چنګاښ ۱۳۷۷

باور

ستا په راتللو مې باور نه راځي
ځکه په ما باندې اختر نه راځي

په انتظار کې دې لمبې، لمبې شوم
دا ستا له لارې کوم خبر نه راځي

لکه چې مینه دې لېدلې نه وي
ځکه وعدې دې تر نظر نه راځي

زه دې هجران بندیخانه کې اوسم
دې نه خوبل په ما محشر نه راځي

د ښکلي مخ کعبه به ونه وینې
هغه مین چې په ګودر نه راځي

"روغ لیونیه" ځان خبر کړه له دې
ځواني چې تېره شي له سر نه راځي

د باکو ښار
زمری ۱۳۷۷

وطن ته

نـــن دې بیـــا پـــه تنـدي وخـــوړو ګوزار
پـﻪ وهلـــو کـــې ظـــالم کړلـــې بیمـــار
څوك دې ولـــي پـــه بمونـــو توغندیـــو
چـــا دې وسوي د تـــن غـــوښې پـــه انـګار
اســـماني کـــانو پـــه تـــا نـــښه نیولـــې
ککـــرې بـــاندې دې ووري وار پـــه وار
لا دې جـــوړ زخمونـــه نـــه و پـــه بـــدن کـــې
چې دې نویـــو کـــروز ګولیـو شـــولې ښکـــار
نـــه پوهـــېږم لـــه تـــا څه ګناه ده شـــوې
چې ژونـدون تـه دې څوك نـه پرېږدي کـرار
چـــا پـــه تـــا بـــاندې ملنـدې ډېرې وکـــړې
چـــا دې خـــرڅه شـــتمني کـــړه پـــه بـــازار
کـــه هـــرڅو دربـــاندې جـــبر ســـتم وشـــو
افریـــن لـــه خپـــل پیمـــان نـــه شـــوې انکـــار
تـــا دښمـــن تـــه ســـر ټیـــټ نـــه کړلـــو وطنـــه
ډېر شـــاباش وایـــم دا ســـتا پـــه مـــور او پـــلار
د نـــاچـــار روغ لیونـــي نـــور څه وس نـــه شـــته
ســـر او مـــال یـــې دی لـــه تـــا نـــه دواړه جـــار

د باکو ښار
زمری ۱۳۷۷

خزان ته

ای خزانــــه دومــــره مــه کــوه ظلمونــــه
پـــه بـــاغچو کـــې رژوې غـــوټۍ ګلونـــه
زما شین باغ دې تالاکړو خدای دې ورك کړه
تـــا پـــرې راوســـتل بادونـــه تـــوپانونـــه
شـــنې لوخـــړې یـــې جـــهان واړه لیدلـــي
چـــې زمـــا کـــور تـــه دې واچـــول اورونـــه
دومره کبر هـېڅوك نـه کړي مـخ دې تـور شـه
پـــه زړګي دې راتـــه کـــېښودل داغونـــه
څو مـــا ځان سـمبالوو د مینـــې ژونـد تـــه
تـــا زمـــا خـــاورې ایـــرې کـــړل ارمانونـــه
نـــا کـــردې بـــه دې لـــه خلکـو هـېرې نـــه شـــي
پـه تـــاریخ کـــې ســـتا ثبت شـوي دي جرمونـــه
زړه دې روغ لیونـــي ځکـــه درنـــه تـــور دی
چـــې لمبـــه دې کـــړل د ســـرو ګلـــو باغونـــه

دباکو ښار
تله ۱۳۷۷

فریادونه

خدای دې خیر کړي لیلا بیا کړي فریادونه
په وریـــږي د ســـپیرو خـــاورو ګردونـــه
اصلــي رنـــګ یـــې الوتلــی زیـــړه ښکـــاري
ډېر یـــې تـــت د ښکلـــي مـــخ دي مشـــالونه
د دیـــدن ګلان یـــې مـــړاوي معلومیـــږي
پـــرې راتول دي د دنیـــا واړه غمونـــه
لـه پښو تـګ نـه غورځېدلې تللـی نـه شـي
تـــاثیر نـــه کـــړي پـــرې دمونـــه تاویزونـــه
پـــه نـــازك بـــدن یـــې ســـخته غلبلـــه ده
د ســـرو شـــونډو یـــې خـــزان دي نـــن ګلونـــه
خـــداې تـــه ســـوال زاري کـــوه " روغ لیونیـــه"
چـــې د ښکلـــي لیـــلا ویـــښ شـــي قســـمونه

شمالي وزیرستان
تله ۱۳۷۷

د عزت کور

ظالم برباد کړې د پلرو وطنه
ای د جرګو دې جګو غرو وطنه
د غلیمانو توطیو وخوړې
څه درې ورې شوې جنګو وخوړې
د ګلکخونو شنو درو وطنه
دی د جرګو دې جګو غرو وطنه
جهان حېران ستا همت ته ګرانه
ستا کلك دریغ او شجاعت ته ګرانه
د سیلانیانو ننداړو وطنه
ای د جرګو د جګو غرو وطنه
په پردي لاس اري اري شولې ته
خاوري ایرې ذرې ذرې شولې ته
افسوس، افسوس د سپینو سرو وطنه
ای د جرګو دې جګو غرو وطنه
د هر افغان د عزتونو کور یې
د شهیدانو جنتونو کور یې
روغ لیوني ته د شعرو وطنه
ای ـ جرګو دې جګو غرو وطنه

د باکو بنار
تله ۱۳۷۷

د واورې ګلونه

د يار ديد تله نيم قدمونه
د واورې ورېدل پرې سپين ګلونه
خوشاله په کوڅه کې ګرځېدله
پرې ګڼه، ګڼه واوره ورېدله
ايستل يې د اشنا انتظارونه
د واورې ورېدل پرې سپين ګلونه
په سر يې غوړولې سره چترۍ وه
يارانو ګل غوټۍ د پسرلي وه
تنکۍ شونډې يې سرې لکه لالونه
د واورې ورېدل پرې سپين ګلونه
قسم خورم چې سپين مخ يې پلوشې کړې
زما د زړه توتي يې تماشې کړې

د مینـــــې ورســــره و ارمانونـــــه
د واورې وربدل پـــرې ســـپین ګلونـــه
د ژمـــــي د موســـم هـــــوا ســـړه وه
خـــو مینـــه یـــې د زړه ډېره تـــوده وه
لـــه ښکلـــي مـــخ یـــې الوتـــل پړقونـــه
د واورې وربدل پـــرې ســـپین ګلونـــه
چـــې مینــې یـــار یـــې راغللـــو ترخنـــګه
ور ماتــه شــوه پــه غـبرګـې رنـــګه بنـــګه
پـــرې "روغ لیونـــي" ولیکـــل یادونـــه
د واورې وربدل پـــرې ســـپین ګلونـــه

د باکو ښار
لړم ۱۳۷۷

توبې

شکر خدایه چې قبولې مې توبې شوې
په خوږه خوله دې زما شونډې لمدې شوې

تودې مینې دې خمار هغه شېبه کړم
چې د تورې زلفې ما باندې خورې شوې

تا چې تاو زما له غاړې کړل لاسونه
د رقیب په زړګي پورې سرې لمبې شوې

ما چې پورته کړل جامونه ستا له شونډو
مېخانه کې واړه ماتې شنې پیالې شوې

ستا د مینې مې ارمان هله پوره شو
چې روښانه دې وصال راته ډیوې شوې

که دیدن باندې دې روغ لېونی مور شي
نور غم مه کړه بیا زما د تا مزې شوې

د باکو ښار
لړم ۱۳۷۷

اوربده شپه

له غمونو مې په زړه کې اور بلیږي
دواړه سترګې مې چینو غوندې څوټېږي
په لکونو کونډې رنډې راته ناستې
مظلومان او یتیمان مې په بل وطن اوسیږي
پرګنې مې شولې وږې لنوڅې پوڅې
دالاخیر دی خو سبا به څه پېښیږي
په توپان غبار موجونو کې راګیره
زړه مې ریږدي چې د ژوند بېړۍ ډوبیږي
شپه اوږده شوه د شفق درک یې نه شته
په تورتم کې څوک منزل ته نه رسیږي
په سوچونو سودایې روغ لېونی شو
د وطن خلکو په حال باندې ځوریږي

د باکو بناړ
لیندۍ ۱۳۷۷

معشوقې ته

ستا د مینې راسره دي ارمانونه
هېڅ به نه شي ستا د سرو ګلو باغونه

که هر څو د دیدن لارې غماز بند کړي
بند به نه کړي څوک د مینې دیدنونه

هیله من یم چې به ستا غېږه نصیب شي
ما زده کړي رښتیا مینه له مجنونه

وخت لا شته چې نا امېده نه شي ګرانې
ستا وربل ته به راوړم ښکلي ګلونه

رقیبان چې هرڅه وایي باك یې نه شته
سم لا وخت بدلیږي دورانونه

وایه دا رنګه غزل روغ لیونیه
چې تکور شي پرې د سوي زړه داغونه

د باکو ښار
لیندۍ ۱۳۷۷

په خير راغلې اختره

ښکلي مخ نه دې قربان شم بختوره
شکر، شکر چې په خير راغلې اختره
د نکريزو او کجلو باران وکړه
په نڅا چې درته پېغلې شي زړه سره
نوې ښکلې جامې وېش کړه په کورونو
چې ولس دې استقبال کړي منوره
د ګلونو پاڼې وشينده په خلکو
چې پخلا شي د وطن سپينه کوتره
د وروري عزيزوالي تړون لاس ليک کړه
چې د امن ژوند شروع شي بې خطره
بل سوغات " روغ ليوني" نه درنه غواړي
بس قبوله کړه يوه دغه خبره

د باکو ښار مرغومی ۱۳۷۷

پسرلي ته

زه دې وينم هر وطن باندې ګرځېږې
شنو جامو کې دېر له ليرې نه ښکارېږې
ټول د ځمکې مخ خو تا دې رنګين کړی
په باغونو دښتو غرو کې شين ځلېږې
منظرې دې جوړې کړې لور په لورې
په ګلونو چمنونو کې نخښېږې
څومره رنګ په رنګ رنګونه دې په تا کې
د دنيا په هره څنډه کې تاوېږې
له خوبونه وپښوې کاينات واړه
په نغمو د بلبلانو کې يادېږې
د ښکلا بدلون نضاد سرچينه ته يې
د ژوندون ټولو ګونو کې خوځېږې
پسرليه دا ګيله مې درنه کيږې
چې له مونږ کلي نه ليرې خوا تېرېږې
ننوتی د کوم يو ځلې راشه
مروره اشنا نور به پوخلا کېږې
خير که خړ پړ کنډوالې مې کلی کور دی
خو زما " روغ ليونی" به مېلمه کېږې

د باکو ښار
مرغومی ۱۳۷۷

ډېرې جرګې ډېرې جرګې

چې نه په ما او نه په تا جوړیږي
دا رنګ وطن به نو په چا جوړیږي
له انتظاره ورته سترې شومه
دا خو په نن او نه سبا جوړیږي
ډېرې جرګې ډېرې جرګې په وشوې
نه په جنګو نه په وینا جوړیږي
سم نیم ولس مې یاغي شوی خدایه
اوس نه په زور نه په رضا جوړیږي
د جنګ په پښو کې راګیر وطن مې
نه په خندا نه په ژړا جوړیږي

داسې نفاق په کې کرلی دښمن
چې نه په ورور نه په بابا جوړېږي
شل کاله کېږي، چې دا جنګ روان دی
نه په خیرات نه په دعا جوړېږي
پرون مې هلته اورېدلي داسې
چې دلته بله کربلا جوړېږي
حالت خراب دی د رنځور کلي مې
نه په طبیب نه په ملاّ جوړېږي
قلم دې روغ لیوني کړیکې وهي
چې وران هېواد به کله بیا جوړېږي

د باکو ښار مرغومی ۱۳۷۷

اقــرار

خلکــو واورئ خپــل ګنــاه بــاندې اقــرار یــم
زه میــن پــه ښکلــي مــخ د شــیرین یــار یــم
لــه مــرې نــه مــې رســې کلکــه راتــاو کــړئ
غرغــره مــې کــړئ چــې زه لایــق د دار یــم
په کتهوه کې مې جوش کړئ چې ښه خوړین شم
مــا پــه اور وســوځوئ ډېر ګنــهګار یــم
دا مــې خپلــه پــه ځان کــړي ملامــت یــم
پــه وطــن کــې د هــر چــا د ســترګو خــار یــم
پاکــه مینــه کــې نــن داســې تــهمتي شــوم
چــې مــې کلــي کــې څوك نــه پرېږدي فــرار یــم
اوس نــو فکــر پــه کــې کــړه روغ لیونیــه
چــې د کومــې ســزا نــوره ســزا وار یــم

د باکو ښار
سلواغه ۱۳۷۷

سرې منګولې

څومره خوند کړي دا ستا تکې سرې منګولې
له بنګړيو نه دې ډکې دي څنګلې
ستا د ښکلو ګل غونچو دیدن مې وکړو
چې په ناز باندې له بامه کوځېدلې
سرې غوټۍ له شرمه پانو کې شوې پټې
کله ته چې په ګلبڼ کې ګرځېدلې
ولسونه ستا د مخ په تماشا و
چې همزولو سره بر ګودر ته تللې
د زړګي ستنې مې ستا په لور کږې شوې
چې په لاره کې کږه وږه کېدلې
د ارمان دنیا مې توله پرې رڼا شوه
چې په مینه دې نن ماته وخندلې
له مین روغ لیونې به هېره نه شې
څه نازکه لکه ښتنه ماتېدلې

د باکو ښار
سلواغه ۱۳۷۷

خوب

ما لیدلي وي په خوب شیرینه یاره
چې راغلي وې زما دیدن لپاره

زه ویده وم تا له خوبه ویښولم
سترې شوې وې له ډېره انتظاره

چې دا سترګې مې په تا ولګېدلې
زر مې غېږه کې راونیوې بې واره

تورو زلفو کې مې پټ له زمانې کړې
ټوله شپه زما مېلمه وې تر سهاره

ستا په مینه مې زړګی هله ټکور شو
چې راوختې پالنګ ته په کراره

دا مې خیال وکه دا خوب " روغ لیونیه"
تر سبا دې په وصال کې وم خماره

د باکو ښار
سلواغه ۱۳۷۷

د مرګونو وطن

زمـــوږ وطـــن و د ګلونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
ښکلـــی وطـــن د ایشـــیا جنـــت و
یقیـــن دې وشـــه د دنیـــا جنـــت و
نـــن شـــو د جنـــګ او د غمونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
د افغانـــانو اوســـېدلو کـــور و
په خـدای چـې نـه دې پرېښودلـو کـور و
شـــولو د پـــېښو د دردونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
مـــوږ تـــه د ویـــاړ شـرف د پـت ځالـــه وه
د عظمتونـــو د غـــیرت ځالـــــه وه
تـــالا والا شـــو د ننګونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
پـــه ټول جـــهان کـــې یـــې شـــهرت لرلـــو
اوچـــت تـــایخ یـــې د عـــزت لرلـــو
پـــه ظلـــم رنـــګ شـــو د بـــاغونو وطـــن

اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
ســتر امـــانت و د پلارونـــو زمـــوږ
د حماســـو د یـــادګارونو زمـــوږ
شـــولو بربـــاد د ســرو لالونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن
روغ لېونیـــه شـــمله ور هــــېواد و
ډېر تـــوپـــاني او زړه ور هــــېواد و
څه ریـــز مریـــز شـــو دا د غرونـــو وطـــن
اوس تـرې نـه جـوړ شـو د مرګونـو وطـن

د باکو ښار
کب ۱۳۷۷

پته

د ځوانۍ دوران زما په تېرېدو شو
ګرانې ستا دیدن خو ډېر په ځنډېدو شو

ستا په تمه مې شوه توره ږیره سپینه
لیونی هوس مې نور په کمېدو شو

خبر نه لرم چې ستا به ځنګه حال وي
خو زما سوی ارمان په رژېدو شو

ستا دیدن د سر په بیه میندای نه شم
زه ګرم نه یم ګلې وخت په بدلېدو شو

سرې سکروټې مې د زړه مجمر کې مړې شوې
تود احساس مې د زړګي په سړېدو شو

د وصال پته دې نه لګېږي ګرانې
ځکه "روغ لیونی" سر په ژړېدو شو

د باکو بنار کب ۱۳۷۷

لوی اختر ته

ټول جهان کې د اختر جوړې میلې دي
ځومره ښکلي دا رنګینې ورځې شپې دي
د جشنونو قافلې دي خوځېدلي
د سیلونو دیدنونو تماشې دي
خو افسوس زموږ د کلي اختر نه شته
له ښادۍ نه مې محرومې پوګنې دي
د وختونو د قسمت چپارو ته ګوره
د وطن پیغلې اغزیو کې پرتې دي
اسویلۍ مې دم په دم خیږي له خولې نه
هره ورځ باندې روانې جنازې دي
چې نه کور نه یې حجره نه دستر خوان وي
نو له داسې اخترونو مې توبې دي
د اختر رنګین جشنونه به زه څه کړم
چې پر غاړه مې خیرنې پرې جامې
نه کلچې شته نه رنجه شته نه نکریزې
ټول وطن کې مې دا حال دا رنګ کیسې دي
د خندا احساس له روغ لیونې ورک دی
په ژړا یې ځکه دواړه سترګې سرې دي

د باکو ښار
وری ۱۳۷۸

نوي کال ته

نوي ژونده نوي خونده نوي کاله
په خير راغلې ستا ديدن ته وم لېواله
بې صبرۍ کې دې راتلو ته انتظار وم
په ځولۍ کې دې راوړي څه دي ماله
وار په وار ټول پيغامونه راته وايه
نن له تا سره کومه د زړه خواله
که دې روغې جوړې زېرې په ما وکړې
ډېر په قدر درکوم په مينه تاله
تا به ګل غوندې ساتم پاس په تندي کې
که ولس دې زما خلاص کړو له جنجاله
خپل مطلب مې درته لنډ ډول روښان کړو
اى دې ښکلي پسرلي رازونو خياله
وايه نوى خبر څه دى تا راوړى
زر خبر روغ ليونۍ کړه له دې حاله

د باکو ښار
ورى ۱۳۷۸

پسرلي ته

وطنونـــه دې عطريـــن كـــړل پســـرليه
دښتـــې غـړونـــه دې رنګيـــن كـــړل پســـرليه
بلبلانـــو تـــه غـــوټۍ ګلونـــه خـــاندي
د خفـــګان تنـدي دې وريـــن كـــړل پســـرليه
پـــه راتللـــو دې شـــروع نـــوې ميلـــې شـــوې
ديدنونـــه دې نويـــن كـــړل پســـرليه
نـــازولې پېغلـــې تـــا كـــړې لونګينـــې
وربلونـــه دې ګلچيـــن كـــړل پســـرليه
د لمـــر وړانـــګې هـــرې خـــوا وغوړېدلـــې
تورتمونـــه دې تـــول ســـپين كـــړل پســـرليه
دا مـــې ســـوال چـــې زمـــوږ كلـــي تـــه هـــم راشـــه
مـــا غـــزل درتـــه شـــيرين كـــړل پســـرليه
نـــه راځې روغ ليونـــي وطـــن تـــه ولـــې
نـــور ملكونـــه دې زريـــن كـــړل پســـرليه

د باكو ښار
وږى ۱۳۷۸

د مخ ستر

تور ماښام کې دې چې کډې بارېدلې
ما نه لېږې، لېږې اوښکې توېدلې
مینه څه چې د دیدن تمه مې پرې شوه
د زړه هیلې مې نوځکه چغېدلې
ناڅاپي څوپه چوپیا شوه تور ماتم شو
چې په توره شپه له کلې ووتلې
په عمرونو به مې هېر نه شي له یادده
نا امیده دې چې ما خوا ته کتلې
د منزل په نامعلوم لور چې رهي شوې
له اسمانه سرې سکروټې ورېدلې
سره لمبه روغ لیونی هغه شېبه شو
چې د مخ ستر دې مات شو ژړېدلې

د باکو ښار
غوایی ۱۳۷۸

نه مرېږم

ستا د مخ په دیدنونو نه مرېږم
د گلبڼ دې په گلونو نه مرېږم

رنګه بنګه مې شه غېږ کې پانې، پانې
هسې تش دې په سیلونو نه مرېږم

شنې کاسې په سر راواړوه چې مور شم
د سرو شونډو په جامونو نه مرېږم

ځینې یار په کوڅه تېر کړي رنګ یې هېر کړي
زه خو ستا په صحبتونو نه مرېږم

چې د څومره ښکلا ستایم نه خلاصېږي
ستا د مینې په شعرونو نه مرېږم

سپینې خولې ته دې لېوال " روغ لېونی " یم
تا یم روږدې په نازونو نه مرېږم

شمالي وزیرستان
چنګاښ ۱۳۷۸

د جنګونو کود

زما وطن خو د غمونو کور شو
د ژړا چیغو د مرګونو کور شو
د وطن خوینديٖ مې سر تورېٖ شولې
په جنګ کې ډېرېٖ میندېٖ بورېٖ شولې
راته د ستونزو پېغورونو کور شو
د ژړا چیغو د مرګونو کور شو
څه ښکلې کور کې، مې وران شو خدایه
په زړه مې پاتې ډېر ارمان شو خدایه
د جنجالونو فریادونو کور شو
د ژړا چیغو د مرګونو کور شو
په سر زخمي په زړه سوری شو وطن
په خړو دودو کې لوګی شو وطن
تالا والا شو د دردونو کور شو
د ژړا چیغو د مرګونو کور شو

د غـرب او شـرق قـوت جنګيـږي دلتـه
تولـې وسـلې ازمويـل كيـږي دلتـه
د جـهانيانو د جنګونـو كـور شـو
د ژړا چيغـو د مرګونـو كـور شـو
چيرتـه تـرې لاړ شـمه لـه خپـل وطـن نـه
د ايشـيا د بـاغ كـابل وطـن نـه
افسوس، افسوس چې د اورونو كـور شـو
د ژړا چيغـو د مرګونـو كـور شـو
روغ ليونيـه سـتر بدلـون لـتوه
وطـن تـهلاره د خلاصـون لـتوه
كـه نـه خـو دا د دوزخونـو كـور شـو
د ژړا چيغـو د مرګونـو كـور شـو

عشق اباد
چنګاښ ۱۳۷۸

نرم ګرم

يــاره چـــې د نـــرم ګرم ښکـــول کړمــه
زړه کـــې بـــه دې پـــټ اورونـــه بـــل کړمـــه

سرې ســترګې مــې دواړه سرې خـورې شـې
کلــه چــې پـرې پـورې تـور کجـل کړمـه

ښکلــې شــنه توتيــان پــه کــې بنديــږي ډېر
زه چـــې تـــورې زلفـــې ول پـــه ول کړمـــه

بيــا بــه لــه خـوږه خوبــه بــېدا نــه شــې
سـر تــه دې در لاندې کــه ځنـګل کړمـه

تــا بــه طبيبــان پــه دارو جــوړ نــه کــړي
ګرانــه کــه زخمـــې دې پــه چــارګل کړمــه

اى " روغ ليونيـــه" پېريـــانې بـــه شـــې
تــا بــاندې کــه خــور دا تــور وربــل کړمــه

عشق اباد
زمرى ۱۳۷۸

ګرم که نه ګرم

خدایه څنګه مې بربار ښکلې ځواني شوه
څه بلا وربانديې پېښه اسماني شوه

په رګو کې مې د تن وینه شوه وچه
ستره هیله د ژوندون مې قرباني شوه

سوچه مینه مې بدنامه شوه وطن کې
لاړه، لاړه په جهان کې تهمتي شوه

دا که ژاړم او که خاندم وس مې نه شته
کلي کور کې راته پیښه اوس بدي شوه

نن که ګرم يې که نه ګرم روغ لیونیه
در په برخه په قسمت کې بدبختي شوه

عشق اباد
تله ۱۳۷۸

د راتلو لار

ګلې ماتــه دې پــرون لار کــې خندلــې
د زړګي ولــې مــې تــا پســې ختلــې
مــا وې بيــا بــه راتــه وخــاندې پــه مينــه
ځکــه ســتا د راتلــو لارې مــې نيولــې
راشــه، راشــه چــې اشــنا شــو يــو تــر بلــه
د يــارۍ نــښې مــې تــا کــې دې ليدلــې
د زړه مينــه کــې خــو شــرم پــه کــار نــه دی
د زړه کمــور کــې مــې مېلمــه شــه غلــې پلــې
چــې پــه مينــه کــې ســر تــېر نــه وي لــه ځانــه
هغــه خپــل مــنزل تــه نــه دي رســېدلي
خوا تــه راشــه چــې د عشــق سبق در زده کــړم
مــا د مينــې کتابونــه ډېر لوســتلي
وايــي روغ ليونــی نــوره پلمــې مــه کــړه
ځه چــې لاړ شــو بــل وطــن تــه لــه دې کلــې

عشق اباد
تله ۱۳۷۸

خاطرې

ستا د مينې خاطرې مې بيا يادېږي
ګرانې ستا خوږې کيسې مې بيا يادېږي

چې په مينه به يو بل نه مړېدلو
هغه ګرمې ولولې مې بيا يادېږي

چې به ناست و د سپوږمۍ رڼا ته دواړه
تر سهاره مرکې مې بيا يادېږي

د زړه سر باندې مې ستا نامه ليکلې
ستا د حسن منظرې مې بيا يادېږي

چې بې غمه به ويده و يو پالنګ کې
هغه ښکلې، ښکلې شپې مې بيا يادېږي

په تېر وخت پسې ارمان روغ ليونی کړم
ستا د مينې يارانې مې بيا يادېږي

عشق اباد
تله ۱۳۷۸

د سترګو خندا

تا چې تور وربل په مخ باندې راخور کړو
زما زړه دې له دنیا چارو نه تور کړو

د مجنون غوندې له کلي کور پردی شوم
چې پېزوان دې په سرو شونډو باندې سپور کړو

چې په لاره کې له ناز کړه وړه شوې
نري زړه دې په ګوګل کې رانسکور کړو

چې دې وخندل په سترګو کې شیرینې
په وجود دې راته بل د مینې اور کړو

نه دې یوه ورځې مېلمه د سپینې خولې کړم
نه دې ژوبل زړه په زړه راته ټکور کړو

دا ګناه به دې خدای ونه بخښي ګرانې
چې د روغ لېونی تل عمر رنځور کړو

عشق اباد
تله ۱۳۷۸

افغان وروړته

ډوب یې فکرونو کې غمجنه وروره
دا به ترڅو وي بې وطنه وروره
پردي وطن کې اوس بې کوره یې ته
هم بې توربوره هم بې وروره یې ته
خپل هېواد جوړ کړه غیرتمنه وروره
دا به ترڅو وي بې وطنه وروه
په شته وطن کې بې وطن ولې یې
همت په کار دی دا غمجن ولې یې
ولس دې پچ کړه له دښمنه وروره
دا به ترڅو وي بې وطنه وروره
غوټۍ ګلونه شنه چمن کې خوند کړي
ټولنیز ژوند په خپل وطن کې خوند کړي
مه هېره وه د مور لمنه وروره
دا به ترڅو وي بې وطنه وروره
روغ لېونیه کلیوال پخلا کړه
خوره وره ټول وطنوال پخلا کړه
مړي دې پروت دي بې کفنه یاره
دا به ترڅو وي بې وطنه وروره

عشق اباد
لړم ۱۳۷۸

وطن ته

ښایسته دي که خړ پړ دي که رنځور دي
پر ما ګران دي که دا سپین دي او که تور دي
که ظالم یې سرمات کړي په ډبرو
بیا په جوړ شي خیر که زړه باندې کمزور دي
اوس تالاکه کنډوالې یا مات او ګوډ دی
پرېښودلای بل ته نه شم دا مې ګور دی
له وژلو نه ژوندي راووتلو
مړ یې مه کړې دا زما د سترګو تور دی
که زما د زړګي باغ وي چنا وېشتلی
په هغه باندې مې حق د بدل پور دی
ګران هېواد به خامخا بېرته جوړېږي
دا دې ټولو افغانانو د ژوند کور دی
پر تا ډېر ډېر حق لري روغ لېونیه
د وطن خدمت په هر شاعر ضرور دی

پېښور لیندۍ ۱۳۷۸

وطن ته

ستا نه لوګی شمه پتمن وطنه
زه یم په تا باندې مین وطنه

څومره ډېر دروند یې څومره خږ یې ماته
ډېره دې پاکه ده لمن وطنه

که په جهان کې څومره وګرځېدم
نه شته دا ستا په شان مسکن وطنه

څو چې ژوندی وم رانه هېر به نه شې
د ښکلو سرو ګلو چمن وطنه

دا ستا به مینه راسره وي مدام
ای د سوړ سك او د نغن وطنه

زما د زړه تسل په تا باندې شي
روغ لیوني ته قدرمن وطنه

پښنور مرغومی ۱۳۷۸

لېونۍ زمانه

دومره ولې لېونۍ دا زمانه شوه
د اصلي لارې نه واوښته کږه شوه

اوس د علم سره هېڅوك مينه نه کړي
د پيسو مينه له هر څه نه خوږه شوه

د پوهې رڼا تته شوه محفل کې
په محل کې ځکه تکه توره شپه شوه

رښتيا نه مني باور کړي په دروغو
اشنا نه مې په دې باندې گيله شوه

ډېر افسوس چې رحم ورك شو په هر چا کې
له خفگانه مې بې وخت ځواني زړه شوه

دا نو څه وشول په تا روغ لېونيه
چې سره اور مينه دې يخو نه سړه شوه

پېښنور مرغومی ۱۳۷۸

یاد که هیر

څه بې غمه ښه وختونه و د مینې
سره پالنګ کې به خوبونه و د مینې

څه خوږې، خوږې ورمې عطرجنې
څه تنکي، تنکي ګلونه و د مینې

تول شپه به یو تر بله جارېدلو
څه خوندونه ارمانونه و د مینې

د ځوانۍ د لېونتوب نوې دوره وه
څه نازک، نازک خیالونه و د مینې

بیا به تېر وختونه راشي که رانه شي
څه په سترګو کې جنګونه و د مینې

درته یاد که درنه هېر روغ لېونیه
څومره ښکلي دیدنونه و د مینې

پېښور مرغومی ۱۳۷۸

مړینه

چې مین نه وه په تا باندې شرینې
له زخمي زړګي به نه څڅېدې وینې

که په مینه دې خندلې راته نه وای
نو به شپې ورځې زما نه وې غمګینې

په یو کلي یوه کوڅه کې سره اوسو
دې کې څوک دې ملامت چې نه مې وینې

که دا ستا مې ښکلې مخ لیدلی نه وای
زیړ شهید به مې رنګ نه وه لونګینې
۷
ته یې نه منې د روغ لیونې مینه
یوه ورځ به یې خبره شې له مړینې

پېښور مرغومی ۱۳۷۸

دا به د چا ګناه وي

عمر مې واړه په غمو کې تېر شو
په کندوالو په تورو شپو کې تېر شو
څنګه پردې شو رانه يار د مينې
د هيلو ژوند مې سرو لمبو کې تېر شو
ښکلې څېره مې خفګان زېړه کړله
د ځوانۍ وخت مې په چرتو کې تېر شو
څېرې ګرېوان په دښتو غرو کې ګرځم
ديدن د يار خو په پلمو کې تېر شو
د هجران شپې به تېروم تر کومه
سبا سبا مې ارمانو کې تېر شو
دا به زما او که د بل ګناه وي
چې ژوند مې نورو وطنو کې تېر شو
روغ ليونی وم د جانان مينه کې
د زړه هوس مې په دردو کې تير شو

پېښور کب ۱۳۷۸

یتیم ته

نصیب کې مې ژړا ده له دنیا نه مې زړه تور دی
اختره ماته مه راځه لوخ پوخ مې د ژوند کور دی
رانه شې اختره زه له تا سره عادت نه یم
خندا نه راځي خولې ته مخ مې سوی لکه سکور دی
مور پلار مې شهیدان دي په غمو کې یې زوریږم
بدبخت د زمانې یم د زړګي جام مې نسکور دی
له خپل کلي نه تللی یم پردي وطن کې اوسم
دا ژوند مې چې تېرېږي دغه ټول راته پېغور دی
په کومه چې راغلی وې اختره بېرته لاړ شه
ډوډۍ جامې مې نه شته نو راتګ دې څه ضرور دی
ملا، معلم څه نه دي را زده کړې خوار یتیم یم
اوس کوم مقام ته ورشم چې د چا دغه قصور دی
د شپې ورځې سلګۍ کوم له غم روغ لیونیه
له ټولو ظالمانو نه مې سوی زړه مفور دی

پېښور وری ۱۳۷۹

سرګردان

هیلې د زړه مې ژړیدلې په ارمان درپسې
پیدا مې نه کړې لټ په لټ مې کړو جهان درپسې

دا ستا د مینې په خیالو کې مې غزل لیکلو
اوښکې زما نه تویېدلې په ګرېوان درپسې

په تیا به کوم محل رڼا وي ښکلې سپینې شمعې
زما د مخ رنګ ځورېدو کې شو خزان درپسې

که مې هرڅو ولټولې ومې نه موندلې
اوس نو مجبور یم لټوم به کهکشان درپسې

له کلي تللی یم په دښتو ښارو غرو کې ګرځم
لکه مجنون د لیلا مینه کې حېران درپسې

ترڅو چې ستا د سکون ځای یې پیدا کړی نه وي
خود به مین روغ لېونی وي سرګردان درپسې

پېښور وری ۱۳۷۹

د لاس ننبه

قلم پسې راواخله شنه خالونه راته کېږده
د مینې د وفا په زړه مهرونه راته کېږده
چې لاس ننبته دې پاتې شي زما په یارانه کې
کمځو کې د خوږې مینې ګلونه راته کېږده
دا ستا خوا ته چې راشم په ټوپونو مې زړګی شي
په نرم نازك زړه باندې لاسونه راته کېږده
زما د باغ ګلونه بویوه په مینه، مینه
چې غېږ کې دې بندي شمه دامونه راته کېږده
رښتیا که د مجنون غوندې په ما باندې مین وې
په پټو پرهرو مې ملهمونه راته کېږده
ګرمي مې چې دا ښکلې مخ راتور نه کړي جانانه
د خوست په علاقه کې چنارونه راته کېږده
رنځېږم د دیدن پسې زما روغ لېونیه
په زړه باندې دا ستا زړه پیوندونه راته کېږده

پېښنور وری ۱۳۷۹

مورنۍ ژبې ته

پښتو زما د مور او پلار ژبه ده
د خپل وطن خلکو د کار ژبه ده
د ټولو ژبو درناوی کومه
ښکلې پښتو مې د اظهار ژبه ده
ځکه خوږه لګي د زړه په غوږ مې
د اشنا مینې د اقرار ژبه ده
د میلیونونو پښتنو قومونو
ډېره ډرنه د افتخار ژبه ده
ځومره خوږه ده ځومره ګرانه ماته
زما د ښکلي شیرین یار ژبه ده
پام کړه په سپک چې ورته ونه ګورې
د خوشحال خان شاعر نامدار ژبه ده
روغ لېونیه ډېر یې قدر کوه
ستا د شعرونو د یادګار ژبه ده

پېښور غویی ۱۳۷۹

وخت بدل شو

مینه بدله شوله یار بدل شو
د ننني نجونو سینګار بدل شو
په ټول جهان کې ستر بدلون راغلی
د راکړې ورکړې ټول بازار بدل شو
بلبل په چیغو چیغو لاړو ترې نه
ښکلي سور ګل کې چې وچ خار بدل شو
وفا څوك نه کوي په خپله وعده
اوس خو د خولې ژبې اقرار بدل شو
سپینې کوترې ترې نه والوتلې
په کنډوالو چې کابل ښار بدل شو
دا اوسنی زمانه بل رنګه شوه
د پروني زمانې وار بدل شو
روغ لیونی به په کې وریت شي اخیر
الفت یې زړه کې په انګار بدل شو

پېښنور غوبې ۱۳۷۹

د مینې کور

د مینې کور افغانستان دی زموږ
دا دې ژوندون ښکلی جهان دی زموږ
د خدای لپاره نور یې مه سوځوئ
پردی خو نه دی خپل بوستان دی زموږ
لیونی نه دی ځله خاندئ پورې
غریب مهاجر بې کور انسان دی زموږ
وطن که رنګ دی خو اباد به یې کړو
نور خو د سرو او سپینو کان دی زموږ
زموږ په کور کې د چا څه غرض دی
خپله مو ځمکه خپل اسمان دی زموږ
مه وژنه خپل وروړ پرنګي خو نه دی
هرڅوک چې دی خو بیا افغان دی زموږ
چې جګړه بس شي سوله راشي دلته
دغه د ټول ولس ارمان دی زموږ
روغ لیوني دې ته چرته کې تللي
ولې کاروان په بیابان دی زموږ

پښنور غویي ۱۳۷۹

سپوږمۍ ته

دا سپین مخ دې زما یار غوندې پرقیږي
سپوږمۍ تا باندې مې زړه مینه ماتیږي

د اسمان په زړه کې تا مقام نیولی
مین ستوري ستا نه چار چاپېر تاویږي

ستا رڼا خوره وره په ټول جهان ده
پټ رازونه واړه تاته معلومیږي

ډېر احسان به دې منمه که سلام مې
ستا په خوله کې زما یار ته ورسیږي

چې ستا ښکلې مخ ته ګورم په ژړا شم
خوږ اشنا مې دواړو سترګو کې ګډیږي

نور څه نه غواړم له تا دومره خو وایه
چې مې ګران روغ لیونی چېرته اوسیږي

پېښنور غوېی ۱۳۷۹

د وزیر محمد روغ لېوني لنډه پېژندنه

وزیر محمد روغ لېونی د خواجه محمد زوی په ۱۳۲۵ هـ ش کال د خوست د لکڼو د بابرو کلي په یوه غریبه بزګره کورنۍ کې زېږېدلی دی.

لومړنی زده کړې یې د لکڼو ښوونځي، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې د ابن سینا لېسه کې سرته رسولي دي. مسلکي لوړې زده کړې یې په هوایي پوهنځي او ادبیاتو پوهنځي کې ترسره کړي دي. سربېره پر دې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې یې د پښتو ژبې د ماسترۍ درجې پروګرام هم لوستلی دی. ډګر وال روغ لېونی په وطن او خلکو مین سړی دی.

چاپ شوي اثار یې په لاندې ډول دي:

۱.	اورونه او ګلونه	۱۳۶۸ هـ ش کال
۲.	زخمونه ملهمونه	۱۳۷۸ هـ ش کال
۳.	پاکه مینه	کب ۱۳۷۸
۴.	د مینې خیالونه	غویی ۱۳۷۹
۵.	سپېڅلې ولولې	همدا شعري ټولګه

ده.

پاتې دې نه وي، چې شپږمه شعري ټولګه یې هم چاپ ته تیاره ده.

چاپخی: دانش کتابتون قصه خواني پېښور - ۲۵۶۴۵۱۳